DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۶۸۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

PROPERTY OF ACKU

د ناټو سرمنشي افغان ځواکونه وستایل

د ناټو عمومي منشي راسموسن د دوشنبې په ورځ په پلازمینه کابل کې د وسلوالو سخت دریځو د ځانوژونکو بریدونو پر وړاندې د افغان امنیتي ځواکونو د دفاعي اقداماتو ستاینه وکړه.

ښاغلي راسموسن په یوه اعلامیه کې، چې د ناټو له مرکز بروکسل ځخه خپره شوې ده، وویل: «زه د افغانستان امنیتي ځواکونه د دغو بریدونو پر وړاندې د دفاع او په ښار (کابل) کې د امنیت راوستلو په خاطر ستایم.»

په کابل کې ډېرو عامو خلکو هم د دې ښار د دوشنبې د **۳مـــخ**

لسم کال - دویمه دوره، ٦٨٦ مه ګڼه، پر له پسې ګڼه ۱۷۵٤ د ۱۳۸۸ ل ـ د مرغومي ۳۰ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د صفرالمظفر ٤ مه د ۲۰۱۰ د جنوری ۲۰ مه

ګونګې لوبې، ګونګې پایلې



امان الله ایمان - په کابل کې ځو ځله داسې بریدونه شوي چې لوري او اهداف یې تر ډیره سره ګونګ او مبهم وي. څه موده وړاندې د ملګروملتونو د مېلمستون په نښه کول، تر هغه وړاندې د وزیر اکبرخان برید او د وړمې ورځې د ارګ په مخ کې بریدونه سره تړلی ابهامونه لري. که د دولت اصلي مخالف طالب دی، نو هغوی هم ددولت د بدنامۍ لپاره هر څه د ځان محصول بولي او د هر څه مسوولیت په غاړه مني، کنه ښایي ډیر داسې څه شوي وي چې دوی پرې خبر هم نه وي خو دوی یې مسوولیت مني، دا به په همدې ځای پریږدو ځکه داد د هر چا خپل کار دی خو د وړمې ورځې په برید، رسنیو بیلابیل تحلیلونه درلودل، ځینو رسنیو واقعا د هر اصل خلاف، د ترهې اچولو هڅه کړې وه چې هسې ولس ته اوضاع ډیره له ګوابس ډکه ترسیم کړي، چې دا له ژورنالیزم سره هیڅ سر نه لګوي او دا په خپله د دقت او توازن اصول له خپل خبر نه پر لغته وهل دي.

خبره داده چې ولې په داسې حساسو وختونو او ځایونو کې دا ډول ناممکنه پېښې رامنځته کیږي؟ مثلا، په دغه ورځ د کابینې د لوړې مراسم ترسره کیدل چې مخې ته یې تورې لوخړې پورته شوې؟ دغه شان، د ملګرو ملتونو په مېلمستون برید هم له سیاسي اړخه ډیر ګونګ و، په ورته وخت کې چې ولسمشر ددوهم ځل لپاره ولسمشر شو، نو په وزیر اکبر خان کې دده د پخواني معاون احمدضیا مسعود پر کور باندې داسې خونړی برید وشو چې، د موضوع عمق د یوه عادي افغان تر وسه لوړ او د لویو سیاسي دسیسو پایله بولي لکه په ډیرې ځایونو کې چې داسې شواهد لاسته راغلي چې بهرنیان ددولت مخالفینو ته وسلې او تجهیزات ورکوي، نو ښایي په لومړي ځل سړي ته دغه خبره ډیره حیرانوونکې **۳مـــخ**

نظر سنجی جدید:
فساد، بزرگترین مشکل افغان ها

براساس گزارش تازهٔ سازمان ملل متحد، مردم افغانستان بزرگترین مشکل خود را فساد می دانند.

برپایهٔ یک نظرسنجی انجام شده از سوی اداره مبارزه با فساد و جرایم سازمان ملل متحد، نزدیک به ۶۰ درصد مردم افغانستان می گویند که در زنده گی روزمرهٔ خود با فساد دولتی دست به گریبانند، و این در حالی است که ۵۴ درصد آنان به مشکلات امنیتی و ۵۲ درصد بر معضل بیکاری تأکید می کنند.

به گزارش بی بی سی، آنتونیا ماریا کوستا، رییس ادارهٔ مبارزه با فساد و جرایم سازمان ملل، می گوید که به گفتهٔ شرکت کننده گان در این نظرسنجی، غیرممکن است که مردم بدون پرداخت رشوه از خدمات دولتی برخوردار شوند، و این امر نه صرفاً یک تصور عمومی، بلکه امری بوده است **ص۲**

وزیر دفاع امریکا:
احتمال آشتی رهبران طالبان با دولت بعید است

وزیر دفاع امریکا اظهار داشت: پیشرفت در مناطق جنوبی افغانستان نشانهٔ تاثیرگذار بودن استراتیژی جدید امریکا در این کشور است.

رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا به خبرنگارانی که با وی به هند سفر می کردند، گفت: این مسأله در حال اثبات است؛ اصولی که جنرال مک کریستال اعلام کرده در حقیقت اصولی صحیح است و جواب می‌دهد.

گیتس تصریح کرد: مردم با نشانه‌های اولیه پیشرفت تفنگداران امریکایی در ولایت هلمند دلگرم شده‌اند. من می‌گویم با انجام چنین پیشرفت‌هایی مردم احساس رضایت مندی کرده‌اند.

گیتس تاکنون در خصوص طرح آشتی با دشمنان سابق امریکا در افغانستان جزییاتی اعلام نداشته، اما خاطرنشان کرد: امریکا مدت‌هاست که معتقد است، این تلاش‌ها می‌تواند، در حل و فصل مناقشات تعیین کننده باشد. **ص۳**

د بهرنیو چارو نوي وزیر خپله دنده پیل کړه

د افغانستان د بهرنیو چارو نوی وزیر د سې شنبې په ورځ د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې د دغه وزارت کارکوونکو ته ورپېژندل شو. ډاکټر زلمی رسول، چې د ولسمشر له خوا د بهرنیو چارو وزارت ته نومول شوی، د روانې اونۍ په سر کې له ولسي جرګې نه د باور رایه ترلاسه کړه.

د افغانستان د بهرنیو چارو نوی وزیر وایي، چې د هېواد د ملي ګټو دفاع به د ده د کاري پروګرامونو په سر کې ځای ولري.

ډاکټر زلمي رسول وویل، چې افغانستان اوس مهال له خورا مهمو ننګونو سره مخامخ دی او راتلونکې یو دوه کلونه د هېواد لپاره برخلیک ټاکونکي دي. **۳مـــخ**

مور په څه بوخت یو او د چا له خوا

۲

اردوی ملی و پولیس ملی، مدافع و پشتیبان شماست.
خانواده تان را محافظت کنید! فعالیت های مشکوک را به بزرگان محل تان راپور دهید.

ملی اردو او ملی پولیس ستاسوساتونکي اوملاتړي دي.
کورنۍ موخوندي کړئ ! د شکمنو کړنو په اړه د خپلې سیمې مشرانوته رپوټ ورکړئ.

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

درې اړخیز کنفرانسونه، دوه اړخیزې لوبې

امنیتي ستونزې ان د ارګ تر مانۍ ورسېدې، اوس طالب وسلوال د دې پرځای چې د کندهار په شاه ولي کوټ او یا د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې له ناټو او افغان امنیتي ځواکونو سره وجنګېږي، د ارګ دروازې په مخکې خپل د قدرت او خواک مانور په نتداره ږدي. که څه هم د ناامنۍ دغه زورې څپې په لومړي نظر د یو شمېر داخلي لاملونو زېږنده دي، خو تر شا پټ او بنکاره خطرناک عوامل هم لري، چې تر ډېرې کچې د افغانستان په ګاونډ کې پروتو دولتونو پورې خلاصه کېږي، دا خبره اوس لکه لمر غوندې روښانه ده، چې دوی د افغان دولت مخالفینو ته پنا ورکوي، روزي یې او وسلې ورکوي او بیا یې د ورانکارۍ لپاره افغانستان ته لېږي.

دغه موضوع ټولو ته بنکاره ده؛ هم نړیواله ټولنه، هم ناټو او هم امریکایانو ټول پر دې پوهېږي، چې د افغانستان د جګړې کرښې چېرې ټاکل کېږي، چېرې پلانېږي او افغان جنګیالو ته څوک پیسې، وسلې او کسان برابروي، خو پر دې خبره ټولو داسې ځانونه کاڼه او ړانده اچولي، چې ګواکې پر هېڅ هم نه دي خبر. د افغانستان ګاونډیان په ځانګړې توګه د پاکستان او ایران هېوادونه، د افغان ناورین هغه بهرني اړخونه دي، چې تل یې زمونږ په هېواد کې خپلو شومو موخو او ګټو ته د رسېدو په خاطر، خپلو لاسوهنو ته دوام ورکړی او په دې لار کې یې له هېڅ راز جنایت او خیانت څخه سپما نه ده کړې، چې نېه بهلګه یې د افغانستان تېره او روانه لانجه ده، چې دوی په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه، نور هم ورته کش ورکوي.

دا په داسې حال کې ده، چې دوی په ظاهر کې ځانونه سپین بولي او هره ورځ له افغانستان او افغانانو سره د مرستو ژمنه هم کوي او ځرګندوي، چې ګواکې دوی د افغان لانجې پای ته رسېدل غواړي، خو په واقعیت کې هغه څه کوي، چې نه یې انسانیت مني او نه هم اسلام.

په هر صورت، په دې وروستیو کې د همدغو دروغجنو منډوترړو په لړ کې، د افغانستان، پاکستان او ایران د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ په اسلام آباد کې یوه درې اړخیزه غونډه جوړه شوه، چې ورپمه ورځ له یو لړ سمبولیکو خبرو او ټرونلیکونو سره چې هېڅ کله یې هم د عمل جامه نه ده اغوستې، پای وموند. د همدې غونډې په سبا یاني پرون ورځ د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند مهمانپرست اعلان وکړ، چې دغه درې اړخیزه غونډه به د دویم ځل لپاره په نژدې راتلونکې کې په تهران کې جوړه شي.

واقعیت دا دی، چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه، په ځانګړې توګه ایران او پاکستان چې په ظاهره ځانونه د افغانانو مخلص او مرستندویان بولي، که دوی په رښتیني توګه د افغان لانجه پای ته رسېدل غواړي، او دوی نور نه غواړي، چې د دوی په ګاونډ هېواد افغانستان کې د جنګ جګړو اور بل وي، نو باید په دې جنګ خپلې هېواد کې خپلې پټې او بربنډې لاسوهنې بندې کړي. مونږ په یقین سره ویلای شو، چې که په افغانستان کې د دوی د ناروا لاسوهنو مخه ونیول شي، له شک پرته به د جنګ جګړو او ناامنیو ټغر په خپله له افغانستانه ټول شي. مګر داسې بنکاري، چې دوی بیا هم پر دغو غونډو او منډو ترړو سره خپل سیاسي اهداف لټوي. دغه موضوع هم په تېرو وختونو او هم اوس ثابته شوې، چې دوی د افغانستان په تراو له شر او ضرر رسونې پرته نور هېڅ صادقانه نیت او هدف نه لري، بنایي ټولو ته په یاد وي، چې د تېرو نهو کلونو په بهیر کې، د افغانستان په اړه، دې ته ورته، په لسګونو غونډې او کنفرانسونه جوړ شوي، خو یوه یې هم د افغانانو درد دوا نه کړ، بلکې د ټولو پربکړې یوازې د کاغذ پر مخ د څو کرښو انځور ګرځېدلی او بس. نو افغان چارواکو ته په کار ده، چې د دوی پر دې مکر ډولو هڅو خطا نشي، او د خپلې ټولنې د عیني واقعیتونو او د خپل هېواد د لوړو ګټو په پام کې نیولو سره، د خپلو دیپلوماتیکو کرښو ستراتېژۍ عیاره او یوازې پر همدې کرښو ګامونه واخلي.

مورږ په څه بوخت یو او د چا له خوا

ساحل بهیر

دیموکراسي، بشردوستي، د ترهګرۍ جګړه، بیارغونه، سوله، ملي پخلاینه، طالب، جاسوس، مجاهد، مخالف، وسلوال، امنیت، سني، شیعه، پښتون، هزاره او تاجک، ټولې هغه کلمې دي چې د افغانانو د غولونې لپاره کارول کېږي او افغانان یې د خپلو موخو لپاره په دې نومونو سره ببل کړي دي.

دا ټول هغه څه دي چې زمونږ افغانانو په سترګو کې خاورې شیندل کېږي، دا ټولې کلمې یوازې او یوازې زمونږ تر منځ د نفاق اچولو لپاره بهرني ډلې کاروي، د دې کلمو تر شا ډېرې نورې کلمې نغښتې دي، که چېرې نورې کلمې او موخې نه وای نغښتې، نو نن ورځ به مونږ یو بل نه سره وژل، مونږ ټول پوهېږو چې زمونږ ټول هېوادوال مسلمانان دي، نو بیا ولې یو له بل سره جنګېږي، ولې د نژاد، ژبې، سمت، او نورو ډېرو ورو مختارو له امله زمونږ هېوادوال وژل کېږي.

آیا مونږ چې ځان ته مسلمان وایو، زمونږ لپاره دا ښایي چې د بلې سیمې او یا هم بلې ژبې د کسانو په بمبارولو، وژلو او نازولو ماشومانو په یتیم کولو خوښي وښیو؟ نه هېڅکله هم نه. نو بیا ولې د یو بل ملا نه تړو، یو بل ته ولې د وروروليۍ لاسونه نه ورکوو، په خپل منځ کې مینه محبت نه کوو، ولې بهرنی دښمن نه پېژنو؟

آیا دا هر څه د بهرنیانو له خوا پر مونږ نه دي تپل شوي؟

آیا اوس هم زمونږ هېوادوال فکر کوي چې بهرنیان د بیارغونې او مرستې لپاره راغلي دي او زمونږ سره مرسته کوي، بیارغونه کوي، بشر دوستي کوي، د هېوادوالو ستونزې اواروي، امنیت مو نیسي او بلاخره زمونږ د هېوادوالو لپاره هوسا ژوند جوړوي؟

آیا زمونږ هېوادوال او چارواکي تر اوسه پورې ویده دي؟

دوی تر اوسه پورې پر دې ونه پوهېدل، چې هره ورځ وژنې، بمبار او بې عزتي څه مانا ورکوي؟

آیا مونږ تر اوسه په دې اندیو، چې امریکا د ولسواکۍ لپاره کار کوي؟ نه هېڅکله هم نه دا بلکل سمه ده چې مونږ نه پوهېږو، که پوهېدای نو پر مونږ کې به د یو اسلام او یو افغانیت تر چتر لاندې ببلابېلې کړۍ نه جوړېدې، مونږ به نه سره توپه توپه کېدو، مونږ به خپل ورور ته دښمن نه وایه تېر کال زما یو ګاونډي راته د خپل مهاجرت کیسه کوله، ویل یې الله دې کافر هم بل هېواد ته نه اړ باسي، هغه چې د روسانو له ظلمونو ځخه ایران ته مهاجر شوی و. ویل به یې سره له دې چې زه یو شیعه وم، خو بیا به مې هم د ایرانیانو ظلمونه چې زمونږ پر هېوادوالو به یې کول نه شوای زغملای، نومونې ویل، ایرانیانو به په دې پلمه چې د یو چا نوم به عمر و او یا به له بل توکم او مذهب څخه و، د پوهنتون ته تلو اجازه نه ورکوله. نو اوس تاسې په خپله قضاوت وکړئ، چې ماته د خپل ملك پښتون، هزاره، ازبك، تاجك او هر بل لرکی په درد خوري او که پاکستانی او یا ایرانی، نه هېڅکله هم بل څوك نه! زما ملاتړ یوازې په هغه چا کېږي چې هغه افغان وي او بس. نور که له هر قوم او ژبې څخه وي زما ورور دی.

نو چې داسې ده خپل ورور ته ورور وواییږ، د خدای لپاره خپل افغانان او خپل ورونه نور په بهرنیانو مه بمباروئ. که هغه هر څوك وي. له هر قوم څخه وي او د هرې سیمې اوسېدونکی وي.

نو مونږ باید پوه شو چې امریکا زمونږ لپاره د هوسایني لپاره هېڅ هم نه دي کړې او نه یې هم کوي. دوی یوازې زمونږ په منځ کې تفرقه اچوي، مونږ له یو بل سره جنګوي او زمونږ تر منځ ورورولي له منځه وړي.

همدې امریکایانو زمونږ په سلګونو ماشومان یتیمان کړل، په سلګونو یې هم په خپل ماشومتوب کې د ړندو بمبارۍ خوراك کړل.

نو آیا امریکایان اوس هم دا دعوه کوي، چې دوی د بشردوستي لپاره کار کوي؟ که چېرې دوی د بشردوستي لپاره کار کوي نو آیا افغانان بشر نه دي؟

دوی د دیموکراسي د پلي کولو لپاره زمونږ هېواد ته الوتکې، ټانګونه، سرتېرې او بېلابېلې وسلې راوړې. نو دوی کومې دیموکراسي او ولسواکي ته ژمن دي، پر بېګناه خلکو باندې د بمونو اورولو ته هم دوی ولسواکي وایي؟ آیا ړندې بمباري، د خلکو خولې ورپټول، د خلکو تهدیدول، د خلکو پر کورونو بې اجازې ورننوتل دیموکراسي ده؟ یو انجینر راته کیسه وکړه، چې د ارزګان په ترینکوټ کې یې له یوه شرکت سره د بهرنیانو په یوه کمپ کې کار کاوه، بهرنیانو تري پوښتنه کړې وه، چې د ترینکوټ امنیت څنګه دی، نومورې چې په خپلو سترګو امنیت لیدلی او واقعیت هم دا و چې د ترینکوټ له ۵ کیلومتري څخه بهر څوك نه شوای تلای، نومورې چې دا ډول حقیقت ورته ویلی و، نو بهرنیانو شرکت ته ټلیفون کړی و چې نومورې انجینر باید ډېر ژر له ترینکوټ څخه ووځي. ځکه چې دوی بنسغلي د ولسواکۍ شعارونه ورکوي، دا چې د بیان آزادي د ولسواکۍ له اصولو څخه یو اصل دی، نو دا د دوی د بیان آزادي ده، چې یو کس نه شي ویلای چې امنیت شته او که نه. که یې حقیقت ووایه، نو ژړل کېږي به او که یې وویل چې ډېر ښه امنیت دی او بهرنیانو مونږ ته ډېر ښه امینت راوستی، نو بیا خو همدا ښه سړی دی. دا د دوی هغه اصل دی چې دوی ورته ژمن دي دیموکراسي، د خلکو حکومت، د بیان آزادي، د خلکو نظریاتو ته درناوی. د دوی شعارونه دي، خو په عمل کې هېڅ هم نه شته.

لوبدیځه نړۍ، د بشردوستۍ چیغې هم وهي، د بنځو او ماشومانو حقوق ځکه غواړي چې هغه بشر دی، نو ایا هغه کسان چې د دوی په ړندو بمباریو کې وژل کېږي هغه بشر نه دی؟ دوی د ماشومانو حقوق غواړي، هغه ماشومان چې د دوی له لاسه هره ورځ په زانګو کې ساه ورکوي هغه بشر نه دی؟ دوی د بنځو حقوق غواړي، هغه بنځې چې د دوی د بریدونو له لاسه خپل مېرونه چې نظامیان هم نه دي له لاسه ورکوي، آیا هغه بشر نه دی؟ دوی پر ودونو بمبار کوي، چې ټول ملکي کسان دي، آیا هغوی بشر نه دی؟

دوی په خپله دې دوره کې ایا د هسکې مېنې، عزیزآباد، بالابلوك، شاه ولیکوټ، سیدآباد، چاردرې او روداتو پېښو قربانیانو ته د بشر په سترګه کتلي؟ نو چې دوی دې کسانو ته بشر نه وایي، نو چا ته بشر وایي، د دوی په نظر بشر څوك دي، حیوانات او که کوم بل څه؟

لوبدیزوال افغان جګړې ته د ۳مخ

افغانستان هانګ کانګ را در کرکت شکست داد



در مسابقات جام جهانی بازیکنان پایینتر از ۱۹ سال کرکت، افغانستان بعد از دو ناکامی پی در پی دیروز به هانک کانگ را شکست داد .

این مسابقات با اشتراک ۱۶ کشور دیروز در نیوزیلند آغاز گردید.

در مسابقات یادشدهٔ جام جهانی جوانان، افغانستان در گروپ الف قرار دارد، در این گروپ، تیم های هندوستان، انگلستان و هانک کانگ شامل اند .

به گزارش پژواک، الله داد نوری معاون کرکت بورد افغانستان، گفت که مسابقات دیروزی در میدان ورزشی هاگلی اوول شهر کرایس چرچ کشور یادشده انجام گردید. وی علاوه نمود که قرعهٔ این بازی ۵۰ اوره را افغانستان از آن خود ساخت و تیم مخالف را به بازی کردن دعوت نمود.

به گفتهٔ نوری، تیم هانک کانگ به علت بازی خوب بالران افغانی، ۱۳۷ دوش انجام داد و ده بازیکن آن از میدان خارج گردید.

موصوف می گوید که ذکی الله از جانب تیم افغانستان بهتر بازی نمود و پنج بازیکن مخالف را از میدان اخراج نمود.

معاون کرکت بورد می گوید که تیم افغانستان، هدف تعیین شده توسط هانگ کانگ را به بسیار ساده گی در اور سی و یکم با خارج شدن دو بازیکن این تیم بدست آورد و بازی را به نفع خود خاتمه داد. نوری علاوه نمود که جاوید احمدی از تیم افغانی خوب درخشید، بدون اینکه خارج گردد، ۹۰ دوش انجام داد.

گفتنی است که قبل از این، تیم افغانستان متقبل شکست از جانب تیم های هندوستان و انگلستان گردیده بود.

بعد از دو شکست، تیم جوانان افغانستان از مسابقات جام جهانی خارج گردید؛ اما با شکست دادن به تیم هانک کانگ، تیم ملی جوانان دستاوردی داشت و آن اینکه در جام جهانی آینده در مسابقاتانتخابی اشتراک نکرده و مستقیماً در مسابقات جام جهانی اشتراک خواهد نمود.

در تیم ملی جوانان افغانستان که در جام جهانی کرکت اشتراک نموده بودند، افسرخان، آفتاب عالم، ایان امینزی، حشمت الله شاهدی، عزت الله دولتزی، جاوید احمدی، مرادعلی، نورالحق، شیر شیرزی، یمین احمدزی و ذکی الله ذکی اشتراک دارند.

فساد، بزرگترین مشکل...

که افراد آن را تجربه کرده اند.

این گزارش بر اساس مصاحبه با ۷۶۰۰ تن در دوازده شهر و ۱۶۰۰ روستا در سراسر افغانستان، از سوی اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد تهیه شده است.

بر اساس این گزارش، بیشتر افغان ها فساد اداری را مشکل بزرگتری نسبت به نا امنی و بیکاری قلمداد می کنند.

در این گزارش آمده است که از هر دو شهروند افغان، یک نفر آن رشوه داده است که در بیشتر موارد از آنان به صراحت درخواست پول شده است.

تهیه کننده گان این گزارش می گویند که متوسط پرداخت رشوه در افغانستان، سالانه به ۱۶۰ دالر می رسد. بر اساس گزارش ها عاید سرانهٔ ناخالص ملی در افغانستان ، ۴۲۵ دالر است.

در مجموع در ۱۲ ماه گذشته، افغان ها دو و نیم میلیارد دالر رشوه داده اند که این مقدار پول تقریبا معادل ۲۳ درصد عاید ناخالص ملی است.

بر پایهٔ این نظر سنجی، بیشتر مجریان قانون، (خود از) بزرگترین ناقضان قانون اند.

حدود ۲۵ درصد مصاحبه شونده گان در این نظرسنجی گفته اند که حداقل یکبار به پولیس و مقام های محلی و ده درصد دیگر به بخش های قضایی در دولت رشوه پرداخته اند.در این گزارش، جامعهٔ جهانی و سازمان های غیردولتی نیز از انتقاد به دور نمانده اند.

۵۴ درصد افرادی که با آنان مصاحبه شده، به این باور اند که سازمان های بین المللی غیردولتی نیز در فساد دست دارند و برای کسب سرمایه در افغانستان کار می کنند.

نتایج این گزارش نشان می دهد که پول، ساختار قدرت های سنتی در افغانستان را به فساد آلوده می سازد.

آنتونیا ماریا کوستا رییس اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد می گوید که عدم اعتماد بر نهاد های دولتی در ارایهٔ خدمات باعث شده، تا مردم به جهات دیگر از جمله عناصر ضد دولتی رو بیاورند.

کوستا تهدید وجود فساد در افغانستان را به سرطان تشبیه کرده و گفته است که برای جلوگیری از چنین وضعیتی و پیش از آن که به بیماری علاج ناپذیری بدل شود، باید حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان، دست به اتخاذ تدابیر قاطع بر اساس کنوانسیون مبارزه با فساد اداری سازمان ملل متحد بزند.

کهریزک، ننګی که با...

دستګاه‌های تبلیغاتی و سرکوب رژیم است. این گزارش‌ها توسط کسانی تهیه می‌شود که از طریق شورای نگهبان و سیستم نظارتی آن بر انتخابات مجلس و نیز انواع دستکاری‌ها در نتایج انتخابات به نماینده گی منصوب می‌شوند و انتظاری بیش از تایید رهبری و حکومت در همهٔ موارد از آنها نمی‌رود.

در گزارش کمیتهٔ مجلس در مورد کهریزک مرتبا تلاش می‌شود، دامن رهبری از جنایات کهریزک پاک شود؛ در حالی که اگر بنا به استدلال گزارش باید مسوولان و نه عوامل پایین دست مورد محاکمه قرار گیرند، ولی فقیه قوماندانی نیروی امنیتی و مسوول قوهٔ قضاییه است و در همهٔ این جنایات باید وی را مسوول شناخت. بیت رهبری گردانندهٔ اصلی دستگاه‌های امنیتی و قضایی و نظامی است و ولی فقیه در ارایهٔ خط مشی‌های اصلی و زمینه ساز (مثل دستور سرکوب تظاهرات مسالمت آمیز و بازداشت معترضان) نقش کلیدی دارد.

کمیته‌ها اصولا با این هدف شکل می‌گیرند که بازدیدهایی را فقط از زندان‌های رسمی انجام دهند و سپس گزارش کنند که «همه از وضعیت رسیده گی در زندان اوین راضی بودند و هیچ شکایتی در این خصوص وجود نداشت» و دوسیه های مربوط به شکنجه و تجاوز را انکار کنند: «هیچ مورد شکنجه جنسی در شکایات وجود نداشت ... حتا گلایه‌یی هم در این مورد وجود نداشت و تمام این مباحث شایعه‌سازی بود که توسط معترضان و براندازان اشاعه داده شده بود.»

بازداشتگاه‌های غیررسمی:

در گزارش مجلس هیچ اشاره‌یی به صدها بازداشتگاه غیررسمی در خانه‌های مصادره‌یی و زیر زمین‌ها (مثل زیر زمین وزارت داخله) و کانتینرها نمی‌شود. بنا به گزارش دستگیرشده گان، آنها به مراکز و محل‌هایی برده شده‌اند که اصولا و در جریان عادی امور بازداشتگاه یا زندان تلقی نمی‌شوند. اما از آنجا که رهبری خود مجوز استفاده از این گونه بازداشتگاه‌ها را صادر کرده و کسی از خویشاوندان مسوولان در آنها مورد شکنجه و تجاوز و قتل واقع نشده، کمیتهٔ نماینده گان انتصابی نمی‌تواند، آنها را مورد مداقه قرار دهد. بازداشتگاه غیررسمی بخشی تفکیک ناپذیر از حکومت‌های اقتدارگرا و تمامیت طلب است.

درجه بندی زندانیان و قربانیان:

گزارش مربوط به بازداشتگاه کهریزک تلویحا بر نقض حقوق کسانی که اراذل و اوباش نامیده می‌شوند و متهمان مواد مخدر مهر تایید می‌گذارد؛ چون این افراد حامی متنفذی ندارند و امکان بودن پسر آقای روح الامینی در میان آنها کم است. در میان زندانیان قشر دیگری وجود دارد که صدای آنها در فضای عمومی و مجامع بین المللی شنیده می‌شود (مثل مدیران سابق جمهوری اسلامی و روزنامه نگاران) و از همین جهت کمیتهٔ مجلس به نحو گزینشی با آنها دیدار می‌کند و طبعا آنها از وضعیت زندان ابراز رضایت بیشتری می‌کنند؛ (چون نسبت به افراد عادی کمتر فحش و کتک می‌خورند). در مرحلهٔ سوم به نزدیکان حاکمان فعلی می‌رسیم که احتمالا ممکن است، در میان کشته شده گان باشند و برای خاطر آنها کمیته تشکیل شده و گزارش عرضه می‌شود.

عوامل قوای قهریه تعقیب ناپذیر است:

در مباحث مربوط به این گزارش در مجلس ایدهٔ حاکم آن بوده است که نیروهای قوای قهریه نباید تضعیف شوند، به این معنا که جنایات آنها نباید مورد مداقه و بررسی واقع شود. دیدگاه هستهٔ اصلی اداره کنندهٔ نیروهای انتظامی و نظامی و امنیتی در ایران آن است که نباید پای قوماندانان و مدیران دستگاه‌های امنیتی درجه یک و دو به میز محاکمه باز شود (در محاکمهٔ متهمان حمله به لیلیهٔ پوهنتون در سال ۱۳۷۸ تنها یک سرباز به جرم دزدیدن یک ریش تراش محکوم شد). رحیم صفوی، قوماندان سابق سپاه پاسداران و مشاور رهبری در انتقاد به دولت خاتمی و سیاست تنش زدایی و قانونگرایی وی می‌گوید: "ماجرای قتل های زنجیرهای به سپاه پاسداران هیچ ربطی نداشت، ولی ما اصل این موضوع را برخلاف مصالح کشور می‌دانستیم و اینکه این ماجرا اینقدر پررنگ باشد را به صلاح کشور نمی‌دیدیم؛ زیرا دستگاه استخباراتی در هر کشوری بالاخره از این خرابکاری‌ها می کند، ولی هیچ کشوری دستگاه‌های استخباراتی خودش را تضعیف نمی‌کند." (تابناک، ۲۰ دی ۱۳۸۸) با همین دیدگاه است که حتا نام یکی از قوماندانان نظامی و امنیتی در این گزارش نمی‌آید. ظاهرا تاریخ مصرف سعید مرتضوی برای حکومت به انقضا رسیده است. نامهٔ استعفای روح الله حسینیان از همین امر شکایت دارد.

انکار کامل شکنجه و تجاوز:

در محدودهٔ شکنجه و تجاوز که در برابر دوربین‌ها در فضای عمومی صورت نگرفته بودند کاملا بر عهدهٔ دستگاه‌های استخباراتی و قضایی گذاشته شد، تا قربانیان و شاهدان را با ارعاب به سکوت وادار کنند، یا از سر راه بردارند. در نتیجهٔ این رفتارها بود که قربانیان تجاوز به خارج از کشور گریختند و شاهدان نیز سکوت اختیار کردند. یکی از جدی ترین شاهدان ماجرا داکتر رامین پور اندرجانی بود که توسط نیروهای امنیتی و قضایی متصل به بیت رهبری به قتل رسید، تا موضوع کهریزک به چند مورد قتل محدود شود. تا در نهایت بخشی از نیروهای درون نظام یعنی نزدیکان و آشنایان روح‌الامینی را راضی نگاه دارد.

مخاطب نمایش این کمیته و قرائت گزارش آن خودی‌ها هستند، جون غیر خودی‌ها قبلا به دروغگویی مجموعهٔ اعضای حاکمیت باور دارند. در غیر از این مورد که با یکی از خودی‌ها درگیر بود، رژیم نه تنها اقدامی برای پی گیری قتل معترضان انجام نداده، بلکه خود آنان را به همکاری در قتل خود متهم کرده (مورد ندا آقا سلطان) یا اصولا قتل آنها را انکار کرده یا قربانیان را نیروهای بسیجی معرفی کرده است.

ریشهٔ خشونت:

گزارش مجلس در مورد شکنجهٔ زندانیان و قتل سه یا چهار تن از آنان بدون اشاره به مبانی برخورد با مخالفان و زندانیان سیاسی و غیرسیاسی و اصولا رابطهٔ دولت و مردم در نهایت کسانی را که به نقض حقوق خود معترض‌اند - نامزد یا رای دهنده- مورد اتهام قرار می‌دهد و نظامی را که اصولا با تقلب و دروغ می‌خواهد، افکار عمومی را تحت تاثیر قرار دهد و با تمسک به خشونت و ارعاب کنترول جامعه را در اختیار گیرد، تبریه می‌کند. منطق این گزارش آن است که ریشهٔ این خشونت‌ها را باید در اعتراض مردم جستجو کرد و نه رفتار و **سیاست‌های حاکمیت.**

از نگاه هیأت حاکمه در ایران این مردم نیستند که باید از حکومت ابراز رضایت یا عدم رضایت کنند، بلکه این ولی فقیه است که در کرسی ابراز رضایت یا عدم رضایت می‌نشیند: "در زمان غیبت امام زمان(عج) رضایت ولی فقیه از اعمال و رفتار ما لازم است." (مقتدایی، مدیر حوزهٔ علمیه قم، جنبش سبز علوی، ۲ آذر ۱۳۸۸) اگر ولی فقیه از دسته‌یی رضایت نداشته باشد، همه چیز بر آنها رواست. گزارش‌های وفاداران به رهبری در مجلس با همین دیدگاه نیز برای رضایت رهبری و وفاداران به وی تهیه می‌شود و نه پاسخگو کردن دستگاه‌ها و انجام مسوولیت‌های قانونی.

د ناټو سرمنشي افغان ...

ورځې د برید پر وړاندې د افغان ځواکونو هڅې وستایلې او ویې ویل چې افغان ځواکونه په ډېرې زړورتیا د مخالفو وسلوالو خانمرګو بریدونو پر وړاندې ودرېدل او د دوی د مقاومت او سرښندنې له امله نه یوازې خانمرګي په مرګ محکوم شول، بلکې د ډېرو خلکو د مرګ ژوبلې مخه ونیول شوه. د ناټو سرمنشي وویل، چې د برید کوونکو هدف دا و، چې د ښه ژوند او ښې راتلونکې لپاره د افغانانو د پرمختګ مخه ونیسي. راسموسن همداراز وویل: «دوی په دې بریدونو سره وښودله، چې د افغانانو ژوند ورته هېڅ اهمیت نه لري» د تاند د رپوټ له مخې، د تېرکال په فبروري کې د طالبانو له لوري پردولتي ودانیو، له هغې جملې عدلیې وزارت په ورته برید کې لږترلږه ۲۶ تنه وژل شوي وو.

د بهرنیو چارو نوي وزیر...

هغه وویل، چې یو خورا مهم ملي مسوولیت ورته سپارل شوی او هڅه به وکړي هغه سرته ورسوي.

"یو یا دوه کاله، چې پر وړاندې لرو، د افغانستان د برخلیک لپاره خورا مهم کلونه دي، په سیمه او هېواد کې په دې پورته شوي توپان کې زموږ دنده داده، چې په ټول صداقت سره د افغانستان له ملي ګټو دفاع وکړو، ځکه یوه ورځ به تاریخ زموږ په اړه قضاوت وکړي. زه له تاسو سره ژمنه کوم تر کومه، چې زما په وس کې ده، زه به خپلو خلکو ته خدمت وکړم او ستاسو په همکاری به د افغانستان له ملي ګټو نه دفاع وکړم."

ډاکټر زلمي رسول د ولسمشر لومړي مرستیال کریم خلیلي او د بهرنیو چارو پخواني وزیر ډاکټر سپنتا په ګډون خپله دنده سمبال کړه، ډاکټر رسول په خپلو خبرو کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو په پلي کولو هم ټینګار وکړ او ویې ویل، چې هغو پروګرامونو ته به دوام ورکړي، چې د بهرنیو چارو د پخواني وزیر ډاکټر سپنتا له خوا پیل شوي وو. د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کې دا بدلون په داسې حال کې راوستل شوی، چې د کتونکو په وینا افغانستان له ډېرو حساسو شرایطو څخه د تېرېدو په حال کې دی او د دوی په وینا اوس مهال په بهرني سیاست کې د یو خوځښت اړتیا لیدل کېږي.

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت تل دا انتقاد موجود و، چې د افغانستان د بهرني سیاست په پلي کولو کې پاتې راغلی او دا ستونزه د دې لامل شوې، چې له بهرنۍ نړۍ سره د افغانستان اړیکې تر هغه حده، چې لازمه وه پراختیا نه ده موندلې. دا چې دا بدلون به په دې برخه کې شته ستونزې هوارې کړي او که ځنګه، دا د دې وزارت د نوي مشرتابه له کړنو سره تړاو لري.

مورِ په څه بوخت یو...

ترهګرۍ ضد جګړه وایي. اوس باید نړیوال په حقه قضاوت وکړي او دا څرګنده کړي چې افغانان ترهګر دي او که دوی خپله، که چېرې افغانان ترهګر وي، نو آیا افغانانو تر دوی ډېره ترهګري کړې، نن ورځ چې زمورِ په کلیو باندو کې څوک د الوتکې غږ اوري، ماشومان او ښځې له ډېرې وېرې له کورونو نه راوځي، ځکه چې دوی د الوتکې له غږ څخه پوهېږي چې بمبار، وژنې او د خلکو بې عزتي ورسره مل ده. نو اوس ترهګر څوک شول. د ترهګرو لغوي مانا ده وېره اچول، اوس دې نړیوال قضاوت وکړي چې وېره څوک اچوي؟

که چېرې د دوی جګړه د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره وي، نو بیا یې ولې په دې اتو کلونو کې له منځه یو نه وړه؟ ولې د دوی له الوتکو او ټانګونو سره سره بیا هم ستونزې ډېرې شوې او دې جګړې نوره پراخي پیدا کړه؟ چې داسې ده، نو ټولو ته څرګنده ده چې تر کاسه لاندې نیم کاسه شته، مانا دا چې دا جګړه د ترهګرۍ د کرلو لپاره ده، نه د ورکولو لپاره؟ دوی وایي چې دوی په دې اتو کلونو کې له افغانانو سره د بیارغونې په برخه کې په میلیاړ ډونو ډالره مرسته کړې، چې مرسته یې کړې، نو بیا دا مرستې څه شوې؟ ولې خلک له بیارغونې څخه ناخوښ دي؟ ولې د خلکو له دولت څخه زړه سور شوی؟ همدا لامل دی چې نن ورځ د دولت او ملت تر منځ ورځ په ورځ بېلوالی رامنځته کېږي، ځکه چې دولت ملت ته په هېڅ ژمنو کې صادق پاتې نه شو. که چېرې له دولت سره مرسته شوې وي، نو بیا ولې په دې اتو کلونو کې یوازې د پلازمینې د سړکونو رغونه هم ونه شوه؟ نو له دې معلومېږي، چې بیارغونه هېڅ نه ده شوې، که چېرې څوک لوړو بلډنګونو ته اشاره کوي، نو باید په دې پوه شي چې هغه زوروالو، قوماندانانو او یا هم په شخصي ډول د شرکتونو له خوا څخه جوړ شوي دي. هغه د دولت او بهرنیانو مرسته او کار نه بلل کېږي.

د امنیت لپاره الوتکې، ټانګونه، پرمختللې وسلې، مرمۍ، شاجورونه، زېرې او ډول ډول نظامي وسایل راوړل شوي دي، خو امنیت ورسره خراب شوی دی، نه شوی نه دی. ټولو ته معلومه ده، هغه وخت چې د طالبانو حکومت ته په هېواد کې پای ورکړل شو، امنیت د پخوا په ډول لکه د طالبانو د حکومت په ډول و، خو له هغې وروسته بیا تر نن پورې ورځ په ورځ امنیت د خرابېدو په لور روان دی، که چېرې د امنیت په خرابوالي خبرې کوو، نو ډېرې شرحې ته اړتیا ده، خو دا چې دا معضله ټول په خپلو سترګو ویني، هغه دا چې د هېواد په پلازمینه کې هم څوک په آرام سره نشي ګرځېدای، نو دا بیا څه ډول امنیت دی؟

سوله چې کولای شي جګړو او کړاوونو ته پای ورکړي، د کال په هر څېرکي کې د یوه شعار په توګه وړاندې کېږي، وایي مورِ له منځلارو طالبانو سره سوله کوو. که چېرې په رښتیا هم سوله کوئ، ولې یې له ټولو طالبانو سره نه کوئ؟ په سوله کې ولې شرطونه وړاندې کوئ، هغه هم داسې شرطونه چې هغوی یې په هېڅ ډول منلو ته تیار نه وي، که شرطونه وړاندې کېږي هم باید داسې شرطونه وي، چې یو څه د منلو وړ وي. اوس د سولې له خبرو هم ملنډې جوړې شوې دي، هېڅ څوک هم د سولې پر خبرو باور نه کوي، بلکې په پوره ډول فکر کوي، چې دا یوازې ملنډې دي او بس.

نو اوس دې خپله هېوادوال فکر وکړي، چې دوی د څه لپاره سره ببل شوي دي، او هغه کسان چې بېلابېلو ډلو ته مشورې ورکوي، آیا د دوی لپاره نه نظر لري، که چېرې نه نظر لري، په دې څو ارزښتونو کې چې پورته یې یادونه وشوه او بهرنیان یې په اړه شعارونه ورکوي، کوم یو ته وفادار پاتې شوي، که چېرې ډلې ټپلې هم پوهېږي چې تر کاسه لاندې نیم کاسه ده، نو بیا باید په خپلو منځونو کې د وروڑلې فضا حاکمه کړي او خپل افغانیت او اسلامیت ته ژمن پاتې شي، که نه زمورِ افغانانو حالت به تر دې هم خراب او کړکېچن شي.

د ټولو افغانانو د بیداري، او په خپلو منځونو کې د وروڑلې په هیله.

د نایابه مرغه د هګۍ اچولو ځای ومونډل شو

تر ډېرو پلټونو وروسته په نړۍ کې د یوه ډېر نایابه مرغه د هګۍ اچولو ځای ومونډل شو او دا د افغانستان د پامیر د غرونو لمنې دي. په نیویارک کې د وحشي ژوو د ساتنې او څېړنې د یوې ادارې په رپوټ کې راغلي، چې تردې مخکې د دې مرغه یوازې ۲ ډوله لیدل شوي وو، خو اوس په پامېر کې شل نورې جوړې هم مونډل شوي دي. په افغانستان کې یوازې همدا یوه امریکایي ډله د وحشي ژوو د ژوند په اړه ساینسي څېړنې کوي.

امریکایي چارواکي وایي:

د پاکستان تعلیمي نصاب ترهګرۍ ته وده ورکوي

امریکایي او پاکستاني چارواکو په یوه خوله دا خبره منلې، چې د پاکستان رسمي تعلیمي نصاب په دې هېواد کې له ترهګرۍ سره د جګړې پر وړاندې یو خنډ دی.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه د امریکایي او پاکستاني چارواکو له خولې کاږي: په پاکستان کې رسمي تعلیمي نصاب د اسلام په نامه د ترهګرۍ ستایته کوي او هغه اړین مضامین لکه تاریخ، ساینس، ریاضي له پامه غورځوي. دا ستونزه ده، چې تعلیمي نصاب په پاکستان کې د سخت دریځو پر وړاندې د امریکا هڅې له ماتې سره مخ کړي.

لویدیز چارواکي بیا دیني مدرسو ته د پرې ګوته نیسي، چې د وسلوالو ډلو ودې ته لار هموارويو او د جنګیالو په جلب کې ورسره مرسته کوي، خو خپله پاکستاني کارپوهان بیا وایي: د ستونزو ریښه د پاکستان په رسمي ښوونځیو او مدرسو کې ده.

د دیني مدرسو د چارو کارپوهان بیا وایي دغه تعلیمي نصاب داسې یوې اېډیالوژۍ ته وده ورکوي او د شاګردانو تر منځ دا خبره راپورته کوي، چې نامسلمان هېوادونه غواړي پاکستان له منځه یوسي او د پاکستان د ژغورنې هیله یوازې له پوځه کېدای شي او بس.

د روهې وېښې د رپوټ له مخې، اوسمهال متحد ایالات هڅه کوي، چې سږ کال پاکستان ته د تعلیم لپاره ۲۰۰ ملیونه ډالر بسپنه ورکړي، دا دهغو مرستو یوه برخه ده، چې په ۵ کلونو کې به پاکستان ته ورکول کېږي، چې ټول یې ۷،۵ میلیارده ډالره کېږي.

ګونګې لوبې، ګونګې...

او ناممکنه ښکاره شي، خو د ځینو بیلګو په لیدلو سوکه سوکه په دې خبرو د سړي یقین راځي، چې ولې داسې خونړۍ، پېښې له لویو سیاسي تصمیمونو سره هممهاله وي؟ ایا د وړمې ورځې د برید ددې پوښتنې ځواب څوک ورکوي چې اکثره دوکانونو ته په خپله بهرنیانو اور ورته کړی دی؟؟

دیته ورته ګونګه لوبه هغه مهال هم یو ځل تکرار شوه چې ولسمشر تیر کال په کابینه کې بدلونونو ته ملا وتړله، نو په کابل ښار کې هم وژنې او تښتونې ورسره مل وي، د راپورونو له مخې، هغه مهال هم ځینو کړیو ولسمشر یا ټیم ته یې ګواښونه کړي وو چې تر طالبانو زیات سرخوړی کولی شي ورته ایجاد کړي، چې هماغه یې پایله وه او بیا غلی همایون اصفي هم ددغه شومې لوبې ښکار او د څو ورځو لپاره د تورو تمبو شاته ولویدل. اوس به د لوبو له لوبغاړو وپوښتو: چې ددې مظلوم ولس دومره وینې بهول د کومو مدارکو په اساس جواز بولئ؟ ایا ستاسو دا ګونګه لوبه پر دې ارزېده چې په دومره لوړه بیه دومره بې بنډاري جوړه کړئ؟ او ایا څه فکر کوئ چې په دې د ولس په وینو لړل شویو خونړیو لوبو به هغه تاروا پایلې تر لاسه کړئ چې یوازې هوس او قدرت مو ورته لیونی شوی دی؟ ځواب یې په خپله له تاسو سره دی! او ایا دا کار او دا منظم برید به په خپله د ځینو بانفوذه کړیو له همغږۍ پرته شونی وي؟؟؟

احتمال آشتی رهبران طالبان...

این طرح آشتی شامل مشوق‌هایی برای بازگرداندن شبه نظامیان سابق طالبان به جامعهٔ افغانستان در بدل اتحاد با دولت افغانستان می‌باشد. وزیر دفاع امریکا تاکید کرد: آشتی باید بخشی از نتیجه‌گیری نهایی باشد. با این وجود، وی اضافه کرد، بسیار متعجب خواهد شد که این تلاش‌ها به سمت رهبران ارشد طالبان مثل ملا محمدعمر گرایش پیدا کند - حداقل در مقطع فعلی. از سوی دیگر به گزارش خبرگزاری فرانسه، رابرت گیتس تاکید کرد: احتمال آشتی رهبران طالبان با دولت بعید است، اما شاید شورشیان رده پایین‌تر از صلح با کابل استقبال کنند.

۱۳ طالب در نیمروز کشته شدند

در نتیجهٔ عملیات تصفیوی در مربوطات ولایت های نیمروز و فراه، ۱۳ تن از افراد طالبان کشته و یک تن شان با لباس زنانه دستگیر گردید.

این مطلب را سمونوال عبدالجبار پردلی قوماندان امنیهٔ ولایت نیمروز بیان نموده، می گوید که این عملیات در ولسوالی دلارام ولایت نیمروز و بکوای ولایت فراد آغاز شده بود و روز گذشته خاتمه یافت. وی افزود که در این رویداد به نیروهای امنیتی آسیبی نرسیده است. تا کنون طالبان نیز در این مورد ابراز نظر نکرده اند. به گزارش خبرگزاری روز، ولسوالی های بکوای ولایت فراه و دلارام ولایت نیمروز ناامن بوده و هر از گاهی مخالفان دولت در این ولسوالی های با نیروهای امنیتی درگیری می شوند.

کنفرانس لندن در مورد افغانستان؛ آخرین فرصت

گزارش - زود دویچه

کنفرانس افغانستان در حالی اواخر ماه میلادی جاری در لندن برگزار می‌شود که اعضای حاضر در این کنفرانس، ناگزیر از دست یافتن به استراتیژی موفقیت آمیزی در مورد افغانستان هستند در غیر این صورت آخرین فرصت برای جلوگیری از شکست در این کشور نیز از دست خواهد رفت.

در حالی که کمتر از دو هفتهٔ دیگر به کنفرانس افغانستان در لندن باقی مانده است، به نظر می‌رسد که به اتخاذ یک استراتیژی بین‌المللی جدید، به عنوان آخرین مرحلهٔ ماموریت نیروهای خارجی در افغانستان نگریسته شود. این کنفرانس در حالی برگزار خواهد شد که کشورهای اعزام کنندهٔ نیرو به افغانستان و همین طور دولت افغانستان، بارها بر سر این مسأله توافق کرده‌اند که باید فرایند واگذاری مسوولیت افغانستان به افغان‌ها تسهیل شده و شرایط برای خروج نیروهای ۴۴ کشور اعزام کنندهٔ نیرو به افغانستان، مهیا شود.

آنگلا مرکل صدراعظم آلمان قبل از هر چیز دیگری به این کنفرانس به عنوان پاسخی به اختلافات سیاست داخلی این کشور پیرامون تقویت نیروها و اتخاذ استراتیژی جدید در قبال افغانستان نیازمند است. آلمان به دلیل انتخابات پارلمانی و تشکیل کابینه، در وضعیتی نبود که همزمان با امریکا در مورد استراتیژی افغانستان بحث و تبادل نظر داشته باشد. محل کنفرانس نیز به خواست بریتانیایی ها و گوردون براون صدراعظم بریتانیا، لندن انتخاب شد. در حالی که ماه‌های کمی به انتخابات مجلس عوام در بریتانیا باقی مانده است، دولت بریتانیا به نشانه‌های مثبتی در خصوص موضوع افغانستان و تحولات این کشور نیازمند است.

در همین حال، در لندن ۷۰ هیأت حضور خواهند داشت و این کنفرانس به عنوان مهمترین پایه و اساس تصمیم‌گیری برای اتخاذ استراتیژی آلمان در مورد افغانستان، اهداف آن و نیز ابزار اجرای این استراتیژی در نظر گرفته می‌شود. امریکا انتظار دارد که این کنفرانس به قول مساعد اعضای حاضر برای فرستادن نیروهای بیشتر منتهی شود. این در حالی است که برای دولت آلمان مسألهٔ مهم این است که بحث بر سرافزایش نیروها به عنوان اصلی ترین بحث کنفرانس لندن در نظر گرفته نشود و این کنفرانس را تحت الشعاع خود قرار ندهد. دولت آلمان تازه بعد از برگزاری کنفرانس لندن، در مورد افزایش احتمالی نیروها تصمیم‌گیری می‌کند.

گرچه اوباما، تابستان ۲۰۱۱ را زمان عقب نشینی نیروها از افغانستان دانسته بود، اما به نظر می‌رسد که این تاریخ بیشتر به عنوان هشداری به حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان، درک شود که تا ابد به کمک‌ها و حمایت‌های نیروهای خارجی تکیه نکند. بالاترین هدف کنفرانس لندن این است که تصویر واقعی یی از افغانستان و امکانات و احتمالات بازسازی این کشور فراهم شود. برخی از کارشناسان مسایل افغانستان با دید انتقادی یی اظهار می‌دارند که "ما به افغانستان، برآورده شدن کوهی از آمال و آرزوها و رویاها را القا کرده‌ایم".

کنفرانس لندن در حالی برگزار خواهد شد که قرار است، کنفرانس دیگری نیز برگزار شود و موضوع این کنفرانس نیز بحث آشتی ملی با طالبان خواهد بود. دولت افغانستان اکنون می‌کوشد که کنفرانسی را با مسوولیت خود ترتیب دهد و در این کنفرانس بحث آشتی ملی با طالبان را مطرح کند، چرا که به نظر می‌رسد، اکنون مشکل اصلی افغانستان آشتی با طالبان است. طی ماه‌های گذشته مذاکرات فشرده‌یی با طالبان در ولایت ها و برخی مناطق این کشور انجام شده است، بدون آنکه به برنامهٔ سیستماتیکی دست یافته شود. برخی از این مذاکرات نیز با کمک‌های عربستان سعودی انجام شده است. البته دولت عربستان شروط سختی را برای مذاکره با طالبان تعیین کرده است؛ دوری گزیدن از القاعده به عنوان یک گروه تروریستی یکی از این شروط است که طالبان تاکنون این خواسته را نپذیرفته است. به هر صورت، در کنار بحث آموزش نیروهای پولیس و اردوی ملی افغانستان، بحث پیشرفت در زمینه‌های غیرنظامی، زیرساخت‌ها و زراعت نیز قرار است، از مباحث مطروحه در کنفرانس لندن باشد. در بخش زراعتی، پتانسیل‌های زیادی برای ایجاد اشتغال برای افغان‌های جوان وجود دارد، از این رو باید از این ابزار در راستای انکشاف افغانستان بهره‌برداری شود. دولت آلمان نیز تاکنون در این زمینه، آموزش حدود ۱۰۹ هزار نیروی پولیس و ۱۳۶ هزار سرباز را پیش بینی کرده است. این درحالی است که امریکا آموزش ۱۴۰ هزار پولیس و ۲۶۰ هزار سرباز را در نظر گرفته است، اما مسأله یی که مبهم است این است که با وجود نرخ بالای بی‌سوادی و عدم اعتماد به نیروهای نظامی افغانستان، تعداد افرادی که خواهان آموزش باشند ناچیز است.

کهریزک، ننگی که با رنگ پاک نمی‌شود

مجید محمدی

رخدادهای بازداشتگاه کهریزک نه اولین مورد از نقض گسترده و نهادینهٔ حقوق بشر توسط رژیم حاکم ایران است و نه آخرین آنهاست. در همهٔ این موارد دستگاه‌های رسمی نظام پس از نقض گسترده و نهادینهٔ حقوق مردم و آشکار شدن آن برای عموم- اگر در میان خودی‌ها قابل انکار یا مشکوک اعلام شدن نباشد- نقش تحریف، وارونه سازی و ماله کشی بر آن جنایات را بر عهده می‌گیرند.

رخدادهای مابعد انتخابات دهم ریاست جمهوری مثل حمله به لیلیهٔ پوهنتون، ماجرای لیلهٔ سبحان؛ جنایات روز عاشورا توسط نیروی امنیتی و نیروهای لباس شخصی، مرگ داکتر وظیفه دار کهریزک، دفن‌های دسته جمعی، و کشتارهای ۲۳ تا ۳۰ جوزا هرگز مورد بررسی کمیته‌های دولتی قرار نگرفته و نمی‌گیرد؛ چون از اساس انکار شده یا مشکوک اعلام شده‌اند یا به گردن سرویس‌های بیگانه انداخته شده اند و دیگر نیازی به ماله کشی بر روی آنها برای هواداران دیده نمی‌شود.

مجلس و رسانه‌های دولتی و قوهٔ قضاییه این نقش ماله کشی را به روش‌های مختلف انجام می‌دهند. مجلس کمیتهٔ تحقیق به راه می‌اندازد، تا بخش‌های تکان دهنده تر واقعیات را انکار کند و تنها چند درصدی از واقعیت را بپذیرد، تا انسجام نیروهای خودی و مطیع حفظ شود. رسانه‌های دولتی و حکومتی برای آن دسته از قتل‌ها که در برابر دوربین‌ها صورت گرفته سناریو می‌نویسند یا به نمایش تیاتر خیابانی می‌پردازند، برخی دیگر را مشکوک اعلام می‌کنند و بقیه را نادیده می‌گیرند. نظام قضایی نیز که نقش میر غضب ولی فقیه را بازی می‌کند، قربانیان را به جای مجرمان و متهمان مورد محاکمه قرار می‌دهد.

گزارش نماینده گان منصوب:

مودل ثابت گزارش‌های کمیته‌های دولتی چاپلوسی و مداحی‌های مکرر از ولی فقیه و مساوی قرار دادن حکومت با حق مطلق برای زدن یک کلمه حرف حساب آن هم در حد و اندازهٔ ظرفیت ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com